ديدبان شفافيت افغانستان
INTEGRITY WATCH AFGHANISTAN

# د فساد ملي سروې ۲۰۱۴

# لنډيز

افغانستان په نړۍ کې، په فساد د ۳ ډېرو ککړو هېوادونو څخه یو دی .[1] د ۲۰۱۴ م. کال د فساد د سروې په دغو موندنو کې ښکاري، چې د تېرکال په پرتله سږکال، د فساد په کموالي کې ښه والی نه دی راغلی . افغانستان داسې یو هېواد دی چې له لویو ننګونو سره لاس او ګریوان دی. تمه ده ،چې دغه هېواد په ۲۰۱۴ م. کال کې د امنیت خوندي کولو او دولتي خدماتو د وړاندې کولو بشپړ مسوولیت په غاړه واخلي . نو په داسې یوه هېواد کې اداري فساد کولی شي، د بریالي لیرد هیلې درې وړې کړي او یا ورته کلک زیان ورسوي . اداري فساد، ټولنیز عدالت او برابرۍ ته زیان رسوي او د بې وزله او بډایوخلکو ترمنځ را منځ ته شوی درز،نور هم زیاتوي، هغه داسې چې بې وزله خلک له دولتي خدماتو محرومويي . دا کار، بلاخره دوسله والو یاغي ډلوملاتړ او سیا سي ناامني زیاتوي او ټیکاو ته زیان رسوي.[2] پر دې سر بېره ،فساد دېته زمینه برابروي چې ، په ګټې (منافع) تر لاسه کوونکو موکو( فرصتونو) پسې پلټنه زیاته شي او د قانون واکمني اود جایداد د ساتني حقونه کمزوري شي، چې دا کارد پانګونې مخه ډب کوي اواقتصادي وده او پرمختیا له ننګونې سره مخامخ کوي . [3] پر سیا سي ټیکاو او اقتصادي ودې د فساد ناوړه اغېزې ، د فساد دطبیعي اغېزو او حجم ښکارندويي کوي او دا را په ګوته کوي ،چې د فساد په وړاندې مبارزې ته کلکه اوبیړنۍ اړتیا ده او د افغانستان دراتلونکي لپاره ډېره مهمه ده، چې په دغې سروې کې هڅه شوې، له دغې مبارزې سره مرسته وشي .

په دغه رپوټ کې، د هېواد په کچه د فساد په اړه دافغانانو دانګېرنو او تجربو موندنې وړاندې کوي اوښيي، چې فساد په څه ډول د خلکو او ټولنو په ژوند څومره اغېزلري. له ۲۰۰۷ م.کال راهیسې، دا د خپل ډول څلورمه دوه کلنۍ سروې ده ،چې د افغانستان د روڼتیا څاراداری لخوا تر سره شوېده. د فساد په اړه ددغې اداري دلومړنی سروې له خپرېدو وروسته د ۲۰۱۰م. او۲۰۱۲ م.کال په جریان کې د فساد کچه پراخه شوې وه. دغه اوسنۍ سروې، له دې اړخه ډېره زیاته مهمه ده ،چې په داسې وخت کې تر سره کیږي چې دغه هېواد له ۲ لویو پېښو او پړاوونو سره مخامخ دی: اول افغان دولت ته دواک اوامنیتي مسوولیتونو لېږد اوداسې لومړنی ولسمشریزې ټاکنې، چې باید له یوه منتخب ولسمشر څخه بل منتخب ولسمشر ته په سوله ییز ډول واک ولیږدول شي .ددغې سروې یا پلټنې موخه داده، چې دفساد د انګېرنو اوتجربو په اړه دافغانانو نظر په ډاګه کړي او له خپلو سیا سي مشرانو او دولتي چارواکو څخه د هغوی تمې په ګوته کړي .

دغه سروې په اداري فساد ، لکه رشوت ورکول ،خنډ جوړول او خپلوي پالنې باندې ډېر ټينګار کوي . اداري فساد په خلکو باندې ډېرزیات نیغ په نیغه اغیز لري او نیغ په نیغه د هغوی مالي پېټی درندوي او دولتي خدماتو او وسایلو ته د هغوی په لاس رسي اغیز شيندي . د فساد دلویو پېښو(د سیا سي فساد او اختلاس مساءلې) ددغې سروې له چوکاټ یا کابو بهر دي اوپه دې پلټنې کې پرې بحث نه دی شوی.

ددغې سروې موندنې په دریو برخو کې وړاندې شوې دي . لومړۍ برخه په هیوا د کې د فساد عمومي تصویر ښيي. په دویمه برخه کې دفساد په اړه د اشخاصو او کورنیو انګیرنې او تجربې په ګوته کوي او دریمه برخه په قضا او د پولیسو په برخو کې په موجود فساد بحث کوي .

---

[1]- د روڼتیا نړیوالې اداري رپوټ ور کړی چې په افغانستان، شمالي کوریا او سومالیا کې ورته یا یو ډول فساد ښکاري او په ۲۰۱۲ او ۲۰۱۳ کال کې د نړۍ ډېر په فساد ککړ هیوادونه وو. د لازیاتو معلوماتو لپاره دا ویب پاڼه کتلی شئ www.transparency.org/cpi.

[2] - هونتینګټون،ساميول پي (۱۹۶۵).،په نړیوال سیا ست کې «سیاسي پرمختیا او سیا سي فساد» ۱۷ګڼه،۳ نمبر:۳۸۶-۴۳۰.

[3] - خان محمد ، ایچ Khan, M. H (۲۰۰۰) اجاره ، اجاره کټونکي او اقتصادي پرمختیا:په اسیاکي نظریې او شواهد.د کمریج ، خان او جومو که اس( Jomo K.S) ، د کمریج پوهنتون خپرونه

کروجر اې او (Krueger, A. O.) ۱۹۷۴،د کرایه پلټونکي یا اجاره نیونکي ټولنې سیا سي اقتصاد.د امریکا اقتصادي بیاکتنه،۶۴ ګڼه(۳):۲۹۱- ۳۰۳.

## میتود(ډول) اود پلټنې تر سره کیدل

دغه څلورمه دوه کلنه سروې، دافغانستان د روڼتیا څار اداری ( IWA ) لخوا د ۲۰۱۳ م.کال په اګست میاشتې کې تر سره او معلومات را ټولول یې پیل شول.سیمه ییزکار او د معلوماتو را ټولول یې د ۲۰۱۳ م.کال د نوامبر په میاشت کې بشپړ شو.په ټوله(مجموع) کې ۷۷۹۸ ځواب ور کوونکي(په برا بر شمېر نارینه او ښځینه) وو سره د هیواد په ګوټ ګوټ کې مرکې وشوې . ځواب ور کوونکي له ۳۴ولایتونو غوره شول. په هرولایت کې د ځواب ور کوونکو شمیر د همغه ولایت د نفوسو په تناسب غوره شو،خوپه ۱۹ ولایتونو کې په استثنایي او قصدي ډول تر ټاکل شوي نمونوي اندازې زیاتو کسانو سره مرکې وشوې. په هر ولایت کې د غوره شویو ځواب ورکوونکو، د شمیر او تفکیک لپاره لطفاً په لومړۍ ضمیمې کې د میتودولوژۍ برخې ته مراجعه وکړئ . ٪۲۴ ځواب ور کوونکي له ښاري سیمو غوره شول او٪۷۶ نور ځواب ور کوونکي له کلیوالو سیمو غوره شول او موخه داوه ،چې د هیواد وګړ پیژندنه(ډیموګرافي) پکې انعکاس ومومي.

د کلیوالو سیمو نمونې د لیرې کلیو او بانډو او ښارونو ته د نژدې کلیو ترمنځ وویشل شوې . د سروې ځواب ور کوونکي همدارنګه، د افغانانو د نفوس دتنوع ( عمر،مدني حالت ، ټولنیز اقتصادي وضیعت، عوایدو، سواد او قومیت )له اړخه هم په پام کې نیول شوي او د هرې برخې متناسب شمیر خلک د مرکولپاره غوره شول.د نمونې اخیستو میتود یا ډول دتصادفي نمونې اخیستو په سیستم طبقه بندي او تنظیم شوی .

هره سروې کیدی شي د پلویتوب له اړخه اغیزمنه شوې وي ، په ځانګړې توګه، د تایید شوي پلویتوب له اړخه او داسروې هم ترې مستثنی نه ده . تصدیق شوی پلویتوب د خلکو تمایلاتو او غوښتنوته راجع کیږي او د هغو معلوماتو را ټولولوته وایي، چې ددوی باور تاییدوي او یا سروې کوونکی په دې باور وي چې دغه انتخابي بیا را ټول شوي او یا تفسیر شوي معلومات، دده له باور سره ټکر نه لري.دهمدې لپاره، دا امکان لري چې د ځواب ورکوونکو د فساد تجربې یا کمې رپوټ شي او یا ترانداز زیاتې وښوول شي .

پخوانۍ اغیزې د پلویتوب بله ممکنه سرچینه(منبع) ده .مخکینۍ اغیزې د ځواب ور کوونکو هغو تمایلاتو ته راجع یا ویل کیږي چې د ځوابونو له اوږده لست څخه څو د ګوتو په شمیرلومړني ځوابونه غوره شي. سره له دې، چې له سروې کوونکو غوښتل شوي ،د ځواب ور کوونکو هغه ځوابونه مه لولئ چې پرانیستي پوښتنې ترې شوي اود پخوانیو اغیزو ، ممکنه تاثیر په بشپړه توګه نشي رد کیدی یا له پامه غورځیدی.

ددې لپاره چې د را ټولو شویو معلوماتو اعتبار او باور پیاوړی شي ، د هر متغیر د اندازه کولولپاره مختلف شمیر شاخصونه په پوښتن پاڼه کې ځای پرځای شویدي، چې مختلفو پوښتنو ته تردرې ځوابه اجازه ور کړل شوې، چې د متغیرو ډیره باوري اندازه ترلاسه شي. په دغه ډول ارزونه باندې د موندنو په اړوندو برخو کې بحث شوی او انعکاس یې موندلی .

## د ۲۰۱۴ م.کال د سروې د موندنو مهم ټکي

ددغې سروې موندنې ښیي، چې د فساد په اړه د افغانانو انګیرنې اوتجربې ،د ۲۰۱۲م. کال په پرتله بدترې شویدي. په داسې حال کې چې په ۲۰۱۲ م.کال کې د فساد د سروې ځواب ور کوونکي په دې باور وو چې ، فساد په افغانستان کې دریمه لویه ستونزه ده ، د۲۰۱۴ م .کال په دغه سروې کې دوی ویلي، چې فساد په افغانستان کې له امنیت وروسته دویمه لویه ستونزه ده. سره له دې، چې د فساد د کمیدوله اړخه په ځینو سکتورونو کې یوڅه پرمختګ یا ښه والی رامنځ ته شویدی، خو ځواب ور کوونکودغه ښه والي دقناعت وړ نه دی بللی . ځواب ور کوونکو ویلي چې فساد دطالبانو له زیاتیدو سره مرسته کړې ، خو دوی په دې کلک باور لري، چې سیا سي چارواکي په ځانګړي ډول ولسمشرکرزی ددې پوره وړتیا لري، چې له فساد سره کلکه مبارزه وکړي. همدارنګه، داسې تصور دی چې نړیوالې ټولنې هم د فساد په مخنیوي کې کمزورې کړنې تر سره کړې دي.

د فساد تجربې او په ۲۰۱۴م.کال کې په بډو کې د ور کړل شویو پیسو اندازه زیاته شوې. سره له دې چې د دولت لخوا د دولتي خدماتو وړاندې کولوکې ښه والی راغلی او اوس د پخوا پرتله ډیر عام خلک لومړنیو خدماتو ته لاس رسی لري،خو فساد ددې لامل شوی چې دغو خدماتو ته په مساوي ډول خلک لاس رسی ونه لري . افغانان په پرلپسې ډول د دولتي خدماتو اودولتي وسایلو د تر لاسه کولو لپاره بډې ور کوي . یو زیات شمیر ځواب ورکوونکو داسې احساس کړې چې د فساد له کبله دوی دولتي خدماتو او وسایلو ته لاس رسی نه دی موندلی او یا ترې محروم کړی شویدي.

د افغانانو په وړاندې انتقال يا دامنيتي ليرد بهير، بله را تلونکې مهمه ننګونه ده. د ۲۰۱۲ م.کال په پرتله،سږکال د ليږد د بهير په اړه په ځواب ور کوونکو کې نسبتاً ډيره خوشبيني موجوده وه . ۵۰٪ ځواب ور کوونکې ،په دې باوروو چې حکومت به وکولی شي، په برياليتوب سره له نړيوالوځواکونو امنيتي واک وليږدولی شي . ۴۵٪ ځواب ور کوونکې په دې باور وو ،چې افغان امنيتي ځواکونه به ددې وړ نه وي چې له امنيتي انتقال وروسته ډاډمن امنيت خوندي کړي .دوی د منابعو کموالی او فسا د هغه ۲ لوی عوامل وبلل ،چې د امنيت ټينګيدو په برخه کې کيدی افغان حکومت ورسره لاس او ګريوان وي .

د ۲۰۱۴ م.کال د سروې مهمې موندنې په لاندې فرعي برخو کې خلاصه شويدي:

## فساد د افغانانو لپاره دويمه لويه ننګونه ده

د فساد په اړه انګيرنې او تصورات په ۲۰۱۴ م. کال کې نور زيات خراب شويدي او اوس له امنيت وروسته اداري فساد، د افغانستان دويمه لويه ستونزه بلل کيږي .د ۲۰۱۲ م. کال په سروې کې ،ځواب ور کوونکو ويلي وو ، هغه درې لويې ستونزې چې افغانستان ورسره مخامخ دی، په لومړۍ درجه کې٪۵۱ ځواب ورکوونکو نا امني ،٪۱۶ ځواب ورکوونکو بيکاري او ٪۱۳ ځواب ورکوونکو، فساد دريمه درجه لويه ستونزه بللي وه ، خو د ۲۰۱۴ م.کال په سروې کې، سره له د ې چې د وړم کال په څير٪۳۶ ځواب ورکوونکو ويلي، چې فساد او بيکاري له امنيت وروسته چې ٪۴۵ خلکو لومړۍ درجه ستونزه بللي وه ، لويه ستونزه ده .

په افغانستان کې د ټرټولو ډيرې زيان رسونکې ستونزې د انګيرنې او تصور په اړه د اوسيدو د سيمې او جنسيت له اړخه توپيرموجود دی . نارينه په مجموع کې ، نا امني او فساد ته يو په بل پسې ډيره ګوته نيسي او ميرمنې بيا بيکاري د افغانستان لويه ستونزه په ګوته کوي . د ٪۱۷ کليوالو اوسيدونکو په پرتله ډير ښاري اوسيدونکي (٪۲۰) په دې باور دي، چې فساد د افغانستان لويه ستونزه ده . بر عکس، ډير کليوال اوسيدونکي (٪۴۷) بيا نا امني د افغانستان تر ټولو لويه ستونزه ګڼي . په داسې حال کې چې ايله٪۴۲ د ښاري سيمو اوسيدونکي، نا امني د افغانستان تر ټولو لويه ستونزه بولي .

### 1. رشوت اخيستل، د فساد ډير عام ډول دی او له ۲۰۱۰ م.کال راهيسې دوه برابره شوی

رشوت ورکول، د فساد ډير عام ډول پاته شوی او په تيروڅلورو کلونو کې د رشوت ور کولوکچه دوه برا بره شوې ده.په داسې حال کې، چې په ۲۰۱۲ م.کال کې ٪۱۸ ځواب ور کوونکي د ۱۲ مياشتوپه بهير کې له فسادسره مخامخ شوي وو ، خو د ۲۰۱۴ ک م.ال په سروې کې ٪۲۱ ځواب ور کوونکي له فساد سر مخامخ شويدي .٪۶۵ په سلو کې هغه کسان، چې په ۲۰۱۴ م.کال کې يې فساد تجربه کړی،يوه اندازه پيسې يې په رشوت کې ور کړيدي او پاتې نور شمير خلکو له پيسو پرته د نورو توکو رشوت ور کړيدی، لکه(د ډاليو ور کول ، په خپلوی پاللو تکيه کول او نور).

د ۲۰۱۴ م.کال د سروې پربنسټ ، داسې اټکل کيږي چې ۱۰۵ ميليارده افغانی(۱۰۵،۶۴۶،۸۳۷،۱۵۰افغانی = 1,942,037,448 ډالرو) سره په تيرو ۱۲ مياشتو کې افغانانو په رشوت کې ور کړيدي . په داسې حال کې، چې په مجموع کې د۲۰۱۰ م.کال په پرتله په دغه اندازه کې ٪۵۵ (۴۳،۰۶۴،۱۷۰،۰۳۰افغانۍ يا 687,494,058 ډالر)زياتوالی ښکاري .پر د ې سربيره، د ۲۰۱۲ م.کال سروې ښيي، چې په منځنی کچه ۹۵۲۸افغانۍ يا191 ډالره هر افغان په رشوت کې ور کړې وې . په داسې حال کې، چې د ۲۰۱۴ م.کال په سروې کې ښوول شوې ،چې دغه اندازه ۱۳۰۸۰افغانيو او يا240 ډالرو ته لوړه شوې .پردې سر بيره، د ۲۰۱۴ م.کال په سروې کې د پام وړ ډيرشمير بالغو کسانو(۳۷۰۸۹۸)د ۲۰۱۲ م.کال د سروې په پرتله ډيرې بډې د پيسو په ډول کې ورکړيدي .

په جغرافيوي لحاظ هم د رشوت د ور کړې په تجربو کې توپير موجود دی .د ښاري سيمو اوسيدونکو،په منځنې ډول ۱۶۳۶۳افغانۍ يا301 ډالر په تيرو ۱۲ مياشتو کې په رشوت کې ور کړې دي، په داسې حال کې چې په کليوالو سيمو کې په منځنې ډول۱۱۰۷۵افغانۍ يا 204ډالرپه بډو کې ورکړې دي . پر دې سر بيره، د ښاري سيمو اوسيدونکي، په منځنې ډول لږتر لږه (۳،۷ځلې ) پيسې په ډيره کچه په بډو کې ور کړيدي ، په داسې حال کې، چې کليوالو سيمو(۴،۲ ځلې) بډې ورکړې دي .

### 2. د فساد بنسټيز کيدل، لانور هم زيات شوی دی

د ۲۰۱۲ م.کال د سروې د موندنو په پرتله ،په کمیشن کارانو باندې د بډو د اخیستو په برخه کې د منځګړي په توګه تکیه یو څه کمه شویده.په داسې حال کې،چې د رشوت په معاملو کې د منځګړو په توګه په خپلوي پاللو،پخوانۍ پیژندګلوۍ او په ملکي مامورینوتکیه زیاته شویده . داوسیدو سیمه دلته د رشوت په معامله کې د منځګړي په توګه کوم اغیز نه لري یانې په دې برخه کې توپیر نشته.ښاري اوسیدونکي ٪۳۰.۶ ځواب ور کوونکي د کلیوالو ٪۲۸.۲ په پرتله د رشوت په اخیستوکې کمیشن اخیستونکي د منځګړو په توګه کاروي. دواړه ډلې په مساوي ډول (٪۱۱) په مشتریانو باندې د فساد په مساءلو کې باور کوي .

ډیرو هغو ځواب ور کوونکو چې پیسې یې په بډو یا رشوت کې ور کړې دي، د میز لاندې معاملو باندې باور در لود او داسې یې ښوولې، چې فساد بنسټیزشوی دی . یوازې یوه کمه اندازه ځواب ور کوونکي په ۲۰۱۲ م.کال کې( ٪۱۰ )او په ۲۰۱۴ م.کال کې ٪۱۴ ځواب ور کوونکو دا ویلي، چې دوی په دې باورنه لري چې د بډو په ور کړې سره به هغه خدمات تر لاسه کړي، چې دوی ورته اړتیا لري . په داسې حال کې چې ٪۳۴ ځواب ور کوونکو چې دهغوی کورنیو رشوت ور کړیدی ، ویلي: دوی کلک باور لري چې بډې د خدماتو په تر لاسه کولو کې له دوی سره پوره پوره مرسته کولی شي. د ۲۰۱۲ م.کال سروې په پرتله ،د هغو کسانو اندازه ٪۳ کې زیاته شویده چې ډیرد بډو په پایلو ډیر باور کوي ، په داسې حال کې چې د هغو کسانو اندازه هم ٪۳ کمه شوې چې د بډو په پایلو کم او یا یوڅه باور لري ، چې دا چاره په مجموع کې دابښيي ،چې د بډوپه ور کړې او په مقابل کې یې د دولتي خدماتو په تر لاسه کولو د خلکو باور زیات شوی دی .

### 3. قضایي ادارې او پولیس، په افغانستان دوه لویې په فساد ککړې عامه ادارې په ګوته شوې دي

(٪۳۴ ځواب ور کوونکو ) ویلي، چې د سروې تر ټولو لویه برخه ده،ویلي دي ،چې قضا په دغه هیواد کې تر ټولو په فساد ډیر ککړ سکتور دی. ور پسې د افغانستان د کورنیو چارو وزارت د (٪۲۶ ځواب ور کوونکو) له خولې ډیر په فساد ککړ دی او په دې پسې په درېمه درجه کې د(٪۲۰ ځواب ور کوونکو )لخوا د پوهنې وزارت کې ډیر اداري فساد په ګوته شویدی.د افغانانو د تصور او انګیرنې پراساس، قضا او د کورنیو چارو وزارت د ۲۰۱۲ کال په څیر بیا هم د هیواد ۲ تر ټولو ډیرپه فساد ککړسکټورونه دي،خو له دې سره سره د کورنیو چارو په وزارت کې یوڅه (٪۳) ښه والی په ګوته شوی .خودافغانستان د پوهنې په وزارت کې د افغانانو په نظرفساد ډیرزیات شویدی او په ۲۰۱۴ م.کال کې یې دداري فساد له اړخه دریم ځای خپل کړی ،په داسې حال کې چې د ۲۰۱۲ م.کال په سروې کې پوهنې وزارت اووم ځای خپل کړی وو، چې د پام وړ زیاتوالی پکې په ګوته شوی .ددغې سروې ځواب ورکوونکي په دې باوردي ،چې د افغانستان د ملي امنیت په ادارې،د ترانسپورټ ، اوبو او برېښنا وزارت کې د فساد پرضد پورته شوي ګامونو مثبته پایله درلوده او ښه والی پکې راغلی دی.

### 4. فساد ددې لامل شوی، چې ډیرو دولتي خدماتو لکه برېښنا، لوړو زده کړو ،قضا او پولیسو ته لاس رسی له خنډ او ستونزو سره مخامخ کړي دی

د سروې ځواب ور کوونکي په دې باور دي، چې فساد په ډیرو دولتي ادارو کې ددې سبب شوی چې دولتي خدماتوته لاس رسی محدود کړي . د بیلګې په توګه ،د ځواب ور کوونکو یوه لویه برخه(٪۲۸) په دې باور دي، چې د فساد له کبله ددوی کورنۍ له دولتي برېښنا بې برخې شویدي، ٪۱۸ نور په دې باور دي چې فساد لوړو زده کړو ته د لاس رسي په برخه کې ددوی مخه ډب کړې، ٪۱۷ نور په دې باور دي، چې فساد په محاکمو کې دوی له عدالت څخه بې برخې کړیدي او ٪۱۶ ځواب ورکوونکي باور کوي چې فساد پولیسو ته له لاس رسي محروم کړیدي .

له حکومتي خدماتو څخه د بې برخې والي په تړاو د خلکو انګیرنه، د ښاري او کلیوالو سیمو ترمنځ توپیر کوي.په مجموع کې ٪۶.۶ د ښاري سیمو اوسیدونکو ویلي ،چې دوی د فساد له کبله له حکومتي خدماتو بې برخې شویدي .په داسې حال کې چې ٪۱۷.۵ کلیوالو اوسیدونکو ویلي چې دوی د فساد له کبله له دولتي خدماتوبې برخې شویدي. له دولتي خدماتو د بې برخې کیدو په اړه انګیرنه ولایتي اړخونه هم لري : (په غور ، دایکنډي، بامیانو، خوست، وردګواو ارزګان) کې په لویه کچه ځواب ور کوونکو(اوسیدونکو) ویلي، چې دولتي خدماتو ته د مخنیوي په برخه کې فساد ددوی خنډ شویدی او دوی یې ترې محروم کړیدي .

سره له دې چې ٪۹ هغو کورنیو سره چې مرکې تر سره شوې دي ویلي،چې دوی نیغ په نیغه په محکمو کې د فساد له پېښو سره مخامخ شویدي،٪۲۶ ځواب ور کوونکي په دې باور دي چې په محکمو د فساد دشته والي له کبله عدالت ته د لاس رسي په برخه کې فساد ددوی په کورنیو منفي اغیز پرې ایستی دی . پردې سر بیره،٪۱۷ ځواب ورکوونکو ویلي د فساد له کبله دوی په محکمو کې عدالت ته له لاس رسي څخه بې برخې شویدي . دابښيي چې د فساد منفي اغیزو،نه یوازې په هغو خلکو منفي اغیز کړی چې په محکموکې د وسیې لري او د عدالت په لټه کې دي ، بلکې ډیرې نورې کورنۍ هم کیدی شي، د فساد له کبله د قضایي او عدلي خدماتو د بې برخې کیدو احساس وکړي .

**5. سره له دې، چې فساد ډېره عامه بڼه غوره کړې، خو د رشوت اخیستل لاهم د ډېرو زیاتو ځواب ور کوونکو لخوا غیر اخلاقي کار بلل شوی.**

سره له د ې چې فساد ډېر رواج موندلی او په وروستیو څو کلونو کې ډېر زیات خپور شوی ،هغه کسان چې د فساد په پېښو کې ښکیل دي او رشوت ور کوي ، ډېرکله د خدماتو د تر لاسه کولو په اړه نا امیده نه وي او په حقیقت کې د رشوت د ور کړې په اړه ډېرپیاوړی منفي احساس لري . ٪۷۷ ځواب ور کوونکو ویلي دي چې په فساد کې ښکیل کس ته په خپله ټولنه کې د ګنهګار او منفور کس په سترګه کتل کیږي . یوازې٪۶ ځواب ور کوونکي په دې باور وو چې فاسد اشخاص، د هوښیارو او ځواکمنو کسانو په څیر بریښي. پر دې سر بیره ،٪۶۵ هغو کسانو چې ویې ویل، که اړتیا وي، دوی غواړي چې خپلې ګټې د رشوت په ور کړې سره خوندي کړي ،وایي، کله چې دوی بډې ورکوي، نو دوی د ګناه او ناسم کار د تر سره کولو احساس کوي .

داسې ښکاري چې د فساد په اړه د خلکونظر په هغو کسانو چې په فساد کې ښکیل دي او که نه دي، اغیز در لودلی دی. ٪۸۹ ځواب ور کوونکو ویلي دي ،چې دوی د رشوت د ور کړې پرمهال د ازاد لاس لرلو، عزت او ځواکمنتیا احساس کوي،او که اړتیا وه نو د خپلو ګټو د ترلاسه کولو لپاره به بډې یارشوت ورکړي. برعکس، یوازې ٪۷۱ د هغو کسانو چې ویلي یې دي ، دوی د رشوت د ور کړې پرمهال د ګناه احساس کوي ، دایې منلې چې دوی د خپلو ګټود خوندیتوب لپاره بډې ورکوي .

**6. دشخصي،قومي او سیاسي تړاوونو موضوع**

کله چې په سروې کې پوښتنه شوې، چې په اوسني سیا سي سیستم کې د فساد ډېرعام ډول کوم دی ؟ ٪۵۷ ځواب ور کوونکو ویلي چې قومي ، شخصي، کورنۍ او ګوندي اړیکي د فساد ډېرعام بنسټونه دي. دولت ته د لاس رسي په برخه کې د اړیکو او تړاوونو (د قومي او کورنۍ اړیکو) د اهمیت ډېریدل تر ډېره د دندې د تر لاسه کولو په برخه کې ښکاري او په دغه برخه کې ډېر کارول شویدي . د ۲۰۱۲ کال له سروې سره پرتله ،د ۲۰۱۴ کال په سروې کې د ځواب ور کوونکو یوې لویې برخې منلې، چې که ددوی دنده خوندي کیږي او یا تر لاسه کیږي نو د خپلوی په پاللو به تکیه وکړي او له دغو اړیکو به ګټه پورته کړي .

دفاسدو کړو وړو د تر سره کولو لپاره، د قومي اړیکو کارول، په افغانستان کې کومه نوې پدیده نه ده او د ولسمشر کرزي حکومت ته یې باید نسبت ورنکړل شي . د طالبانو او مجاهدینو د واکمنۍ پرمهال هم د قومي اړیکو په پاللو ډېرې نیوکې کیدې، چې یو کس د خپل قوم یوه کس ته په نورو ترجیح ور کوي او دغه اړیکې د خلکو او دولت تر منځ د منځګړي په توګه کارول کیدې . په دې توګه ، قومي اړیکې دولت ته د لاس رسي په برخه کې مهمې پاته شویدي ، خودولت ته د لاس رسي په اړه ،نوی سیا سي سیستم په رسمي توګه د ډیموکراتیکو اصولو پر اساس لکه د خلکو لپاره ټولنیز عدالت ، د قانون په وړاندې د ټولو د برابرۍ پربنسټ ولاړ دی.[4]

**7. فساد، په کورنۍ دروند مالي پیټی اچولی**

تقریباً ٪۲۹ ځواب ور کوونکو ویلي دي چې په تیرو ۱۲ میاشتو کې د فساد له اړخه ددوی په کورنیو مالي پیټی د سروې دمخکې مهال په څیرپروت دی،په داسې حال کې، چې د ځواب ورکوونکو لویې برخې(٪۵۷) ویلي دي، چې ددوی په کورنیو د فساد له اړخه مالي پیټی زیات شویدی.هغو ځواب ور کوونکوچې ډېرې پیسې یې په بډو کې ورکړې دي، په وار وار ویلي دي چې له سروې دمخه تیرو ۱۲ میاشتو کې ددوی په کورنیو د فساد مالي پیټی زیات شویدی .

د رشوت د ور کړې اوچته اندازه ، د کورنیوپه اوړو مالي پیټی ور دروندوي . د بیلګې په توګه،٪۷۷ هغو کسانو چې ۱۰ زره او یا تر هغه یې ډېرې پیسې په رشوت کې ورکړیدي،٪۶۴ هغو کسانوچې د ۲۰۰۱ تر ۱۰۰۰۰ افغانیو پورې رشوت یې ورکړي او٪۵۹ هغو کسانو چې له ۵۰۰-۲۰۰۰ افغانیو یې په رشوت کې ورکړې دي ، ویلي چې ددوی په کورنیو د فساد له اړخه مالي پیټی دروند شویدی.[5] هغو ځواب ور کوونکو چې ویلي یې دي ، په تیرو ۱۲ میاشتو کې د فساد له اړخه مالي پیټی ددوی په کورنیو کم شویدی ، دایې هم ویلي دي چې په مجموع کې د فساد اغیزې ددوی په کورنیوکمې وې .

---

[4] - د نوي اساسي قانون ۴ ماده کې راغلي چې ددغه هیواد ټولو وګړو ته د افغان په کلیمه اطلاق کیږي یا ویل کیږي ، په داسې حال کې چې په۶ مه ماده کې ټینګار شوی چې ټول قومونه او خلک سره برابردي او دولت ته لاربښوونه کوي چې ټولو خلکو ته متوازن او برابر خدمات وړاندې کړي .

[5] - د ۱۸ او ۲۱ پوښتنې د جدول بندۍ پر اساس.

دکلیوالو (٥٦٪) اوسیدونکو په پرتله ډیرو ښاري اوسیدونکو(٦١٪) ویلي دي، چې د فساد له اړخه مالي پیټې ددوی په کورنیوپه تیرو ۱۲ میاشتو کې زیات شوی دی.همدارنګه، د کلیوالو سیمو په پرتله ډیروښاري اوسیدونکودا انګیرنه در لوده ،چې فساد په هیوادکې لویه ستونزه ده . ٦٥٪هغو ځواب ور کوونکو چې زده کړې یې کړې ( له لیسې او یا له پوهنتون څخه فارغ دي) په دې هم ټینګار کوي، چې د فساد یا رشوت د ور کړې له درکه ددوی په کورنیو پیټې زیات یا دروند شویدی،خو ٥٤٪ هغو کسانو چې لومړنی زده کړې یې کړې دي او یا نا لوستي دي، دا خبره کړې ده .دلیل یې کیدی شي داوي، چې ډیرلوستي ځواب ورکوونکي له حکومتي ادارو سره دښکیلتیا پرمهال له تاوتریخوالي سره د مخامخ کیدو په حالت کې تر ډیره ،له قانون او خپلو حقونوڅخه خبر دي .

## 8. فسا د د دولت مشروعیت ته زیان رسوي او داسې ښکاري،چې یاغیانو ته د سونګ توکو سبب ګرځي

په ۱۹۵۰ مو او۱۹٦۰ مو کلونو کې د سیا سي بې ثباتیوخپریدو ته په کتو سره سمیوول هانټینګټون په خپل لومړني اساسي کار( څیړنه)«سیا سي پرمختیا او سیاسي فساد» کې په دې بحث کړی، چې فساد د«سیاسي فساد)د بنسټونو د له منځه تلو ،د کړکیچ د رامنځ ته کیدو، دوسله والو ډلو د راپیدا کیدو او بغاوت د زیاتیدو زمینه برابروي.[6] په ۲۰۱٤ م.کال کې ،شاوخوا٣٥٪ ځواب ور کوونکي همدارنګه په دې باوری دي، چې فساد ، طالب وسله وال خوځښت ته اسانتیا برابروي . په ډیرو نا امنو ولایتونو کې ځواب ور کوونکي په مجموع کې ډیر زیات بدبینه دي او په دې نظر دي، چې فساد د طالبانو د پراختیا سبب ګرځي.په فراه، ارزګان،دایکندي، لوګر،ننګرهار،کنړ او بدخشان کې خلک تر ډیره په دې نظر او باور دي، چې دفساد شتون د طالبانو د پراختیا لامل ګرځي.

ښاري او کلیوالي سیمي په دې تړاو چې فساد د طالبانو د پراختیا لامل ګرځي، سره ورته ا و یو شان نظر لري،خو تر نارینه وو ښځې ډیرې په دې باور دي، چې فساد د طالبانو له پراختیا سره مرسته کوي. هغه کسان چې ډیرې زده کړې لري، تر ډیره په دې نظر دي، چې په دولت کې د فساد شتون د طالبانو د حضور د پراخیدو لامل کیږي .[7]

## 9. له فساد سره مبارزه: تمه کول بېځایه ده

له اداري فساد سره دمبارزې په برخه کې د دولت د کړنو کچه ټیټه ښوول شوې .نسبتاً کمه سلنه ځواب ور کوونکي(٢٧٪) په دې باور دي چې حکومت له فسادسره د مبارزې په برخه کې کافي کار تر سره کړیدی، سره له دې چې په دغه برخه کې د ۲۰۱۲ م.کال په پرتله یوڅه ښه والی راغلی ، هغه مهال ۲۲٪ خلکو د حکومت له مبارزې رضایت ښوولی وو. د همدې لپاره د ځواب ور کوونکو لویې برخې (٦٧٪) د فساد په وړاندې د حکومت په رواني مبارزې رضایت نه دی ښوولی .په مجموع کې، د ښځو په پرتله نارینه د فساد په وړاندې د حکومت په مبارزې ډیرې نیوکې لري. په مقایسوي ډول،د نارینه وولویه برخه(٦٧٪د ٦٣٪ ښځو په پرتله ) په دې باور دي چې حکومت له فساد سره د مقابلې په برخه کې کافي څه نه دي تر سره کړي .

## 10. داسې ښکاري، چې نړیواله ټولنه له فساد سره د مبارزې په برخه کې، ډیره ژمنه نه ده

په مجموع کې ، افغانان ،په افغانستان کې له فساد سره د مقابلې په برخه کې د نړیوالي ټولني د ژمنو په اړه ډیر خوشبینه، نه دي . سره له دې چې د ۲۰۱۲ م.کال په پرتله، په دغه برخه کې یوڅه ښه والی راغلی دی، په ۲۰۱٤ م. کال کې یوازې ٣٦٪ ځواب ور کوونکي په دې باور دي ،چې نړیواله ټولنه له فساد سره مبارزې ته ژمنه ده، چې په افغانستان کې له اداري فساد سره مبارزه وکړي . په همدې ډول، ٣٦٪ ځواب ور کوونکي په دې باور دي ،چې نړیواله ټولنه له اداري فساد سره د مبارزې په برخه کې نا چیزه ژمني لري ، په داسې حال کې چې پاتې نورو ځواب ور کوونکو په دې برخه کې څه ونه ویل او له ځواب ور کولو یې ډډه وکړه . پر دې سر بیره ،٣٢٪ ځواب ورکوونکو ویلي دي، چې نړیواله ټولنه د صادقو او پاکو سیمه ییزو چارواکو ملاتړ نه کوي . دباور دا ډول کموالی کیدی شي، په هغې انګیرنې یا نظر سره لاپیاوړی شي، چې فکر کیږي، نړیوالي ټولني د فساد په وړاندې غبر نه دی اوچت کړی. د ځواب ور کوونکو ښایسته لوی اکثریت(٧١٪) ویلي دي، چې دوی تر اوسه نه دي اوریدلي، چې نړیوالې ټولني دې په افغانستان

---

[6] - هانټینګټون،سمیوول پي(Huntington, Samuel P)(1965) په نړیوال سیا ست کې«سیاسي پرمختیا او سیا سي فساد» والییم 17, No. 3: 386-430 .

خان محمد ایچ(Khan, M. H., 1995) «په ضعیفه دولتونو کې د دولت ناکامي: د نوې سیاسي دود دتعریف انتقادونه».په : هریس ،هانټر،جې او لیویس ، سي . نوی بنسټیز اقتصاد او د دریمې نړۍ پرمختیا» لندن روټلیج.

خان محمد ایچ ،-Khan, M. H., 2005 - «مارکیټونه، دولتونه او ډیموکراسي: پیټرون- د مشتریانو شبکې او مخ پر ودې هیوادونوکې ډیموکراسي» ډیموکراسي رامنځ ته کول، .25-705 :(5) 12

[7] - د ٦۰ مې او ۹۲مې پوښتنې جدول بندي.

کې د فساد په وړاندې خپل غږ اوچت کړی وي.او هغو نورو کسانو چې د فساد په وړاندې یې د نړیوالې ټولنې غبرګون اوریدلی ، تر ډیره په دې عمومي باور دي، چې نړیواله ټولنه غواړي د فساد په وړاندې مبارزه وکړي . ورسره جوخت ، دغه ډله ځواب ورکوونکي تر ډیره غواړي ووایي، چې نړیوالې ټولنې د صادقو او پاکو سیمه ییزو چارواکو ملاتړ کړی دی.

### 11. ځواب ور کوونکي،د فساد په وړاندې د مبارزې فردي ژمنې هم ښکاري، چې ډیرې پیاوړې نه دي

د ځواب ور کوونکو لوی اکثریت (۹۵٪) ویلي دي، چې دوی به داسې کس ته رایې ورنکړي، چې د دوی په باور په فساد ککړ وي .یوازې څه کم ۲٪ ځواب ور کوونکو ویلي، چې دوی به دیته هم پام ونکړي او همدغه ډول شخص ته به هم رایې ور کړي . په ښاري سیمو کې ۹۶٪ او په کلیوالو سیمو کې ۹۴٪ خلکو ویلي دي، چې دوی نه غواړي داسې سیاستوال ته رایه ور کړي چې په فساد ککړ وي . پر دې سربیره، د ځواب ور کوونکو یوې لویې کتلې (۶۳٪) ویلي دي، چې که دوی ته کومه موکه هم برابره شي، نو دوی به د رشوت له لارې خپلې ګټې خوندي نکړي.همدومره شمیرځواب ورکوونکو په ۲۰۱۲ م.کال کې هم ورته نظر ور کړی وو . داسې هیله شته ، سره له دې چې له ۲۰۱۲ م.کال راهیسې فساد ډیرشوی دی ، د ځواب ور کوونکو لوی اکثریت دې ته ترجیح ور کوي، چې د خپلو ګټو د تر لاسه کولو لپاره بډې ورنکړي . یوځل بیا په ښاري سیمو کې ډیرخلک(۶۹٪) د کلیوالو سیمو په پرتله(۶۱٪)ویلي، چې دوی د خپلو ګټو د خوندیتوب لپاره د رشوت ور کول رد کړیدي .

### 12. داسې ښکاري، چې فساد ،د لیږد بریالی ترسره کیدو او امنیت ته زیان رسوي

تقریباً د افغانستان اکثریت یا پوره نیمایي وګړي(۵۰٪) د لیږد د بهیر په بریا او د افغان امنیتي ځواکونو په وړتیا وو باور لري ،چې وبه کولی شي، د هیواد امنیتي مسوولیتونه په خپله غاړه واخلي . د همدې لپاره ،د ځواب ور کوونکو یو لوی اکثریت (۳۵٪) د بریالي لیږد د بهیر په اړه بدبینه دي او پاتې۱۵٪ په دې سم نه پوهیږي، چې ایا د لیږدبهیربه بریالی او که بریالی نه وي . هغه خلک چې په ښاري سیمو کې اوسیږي (۵۸٪) یې د لیږد دبهیر د بریالي ترسره کیدا په اړه خوشبینه دي ، په داسې حال کې، چې دا سلنه په کلیوالو سیمو کې ۴۷٪ ده .

هغه کسان چې د بریالي لیږد په اړه شک لري، د د لیل په اړه یې پوښتنه تري شوې ،چې ولې دوی داسې فکرکوي، چې افغان امنیتي ځواکونه به ونه توانیږي، چې د بهرنیو ځواکونو له وتلووروسته، په یوازې سر امنیت خوندي او ډاډه کړي؟ په دغو ځواب ور کوونکو کې ۲۲٪ د منابعو کموالی او ۲۱٪ نورو فساد هغه دوه مهم عوامل وبلل، چې د افغان امنیتي ځواکونو وړتیاوو ته زیان رسوي او هغوی به ونشي کولی، چې د هیواد امنیت خوندي کړي .

### 13. د افغانستان د راتلونکي په اړه، په موجودې خوشبینۍ د فساد له اړخه د خلکو د اندیښنې ممکنه اغیز

د ځواب ور کوونکو اکثریت داسې ډاډمن باور نه لري، چې د ۲۰۱۴م. کال د ولسمشرۍ ټاکنې به ددوی ژوند ښه کړي. یوازې ۴۳٪ ځواب ور کوونکي له دې درکه خوشبینه وو ، په داسې حال کې چې ۱۲٪ نور په دې باور دي، چې ټاکنې به ددوی ژوند لاپسې خراب کړي ، ۱۹٪ نور په دې باور دي، چې ټاکنې به ددوی په ژوندکې کوم بدلون رانه ولي او ۲۵٪ نور په دې پوره نه پوهیږي، چې د ۲۰۱۴ م.کال د ولسمشرۍ ټاکنې به ددوی په ژوند خاص اغیز وکړي . هغه ځواب ور کوونکي چې باور کوي، حکومت د فساد په وړاندې مبارزې کې کافي هڅې کړې دي، ٪ ۴۷دي او د هغو کسانو شمیر چې برعکس فکر کوي (۴۱٪) ،دي دوی داسې فکر کوي، چې د ولسمشرۍ ټاکنې به ددوی ژوند ښه کړي .

## د سروې د موندنو پر بنسټ، دعمل لپاره سپارښتنې

د افغانستان د روڼتیا څار اداره (IWA ) د سروې د موندنو ، د روڼتیا څار ادارې د عدالت غوښتنې د کار او پلټنو پراساس ،لاندې سپارښتنې کوي :

- له فساد سره د مبارزې په برخه کې معلوماتو ته لاس رسی، ډیر زیات مهم دی . د افغانستان حکومت باید یوه داسې قانوني اداره رامنځ ته کړي، چې د افغانستان د اساسي قانون د ۵۰مې مادې پربنسټ معلوماتو ته د خلکو لاس رسی اسانه کړي . افغان حکومت او پارلمان باید د قانون یوه داسې طرحه را منځ ته کړي، چې معلوماتو ته د خلکو لاس رسی منظم کړي.د افغانستان حکومت او مدني ټولنې دواړه باید، خلکو ته دا پوهاوی ور کړي ،چې معلوماتو ته لاس رسي، ددوی حق دی.

- دافغانستان د سیاسي ثبات لپاره دامنیت اهمیت او عدالت ، په قضایي سیستم ا و پولیسو کې دفساد د مخنیوي لپاره اړتیا ده چې دغه چاره د حکومت په لومړیتوبونو کې ځای پرځای شي .

- د محکمو د بهیر په څارنه او کتنه کې د مدني ټولنو او عامو خلکو ګډون باید وهڅول شي . حکومت باید د محکمو د بهیر د کتنې لپاره دمدني ټولنو ښکیلتیا ته اسانتیاوې برابرې کړي او مدني ټولنې باید په دې اړه مسوولانه کړنلاره غوره او منظمه برخه یکي واخلي .

- اوږدې او پېچلې بیروکراتیک پروسیجرونه، په دولتي ادارو کې دفساد لامل شوي دي.د اداري چارو او پروسیجرونو ساده کول او اغېزمن کول، د دولتي وسایلو او خدماتو د تر لاسه کولو او د جزوي رشوت د مخنیوي او کمیدو په برخه کې خورا مهم دي.دا چاره ،همدارنګه خلکو ته ددې موکه برابروي، چې د دولتي خدماتو د تر لاسه کولو لپاره له کمیشن کارانو کار اخیستل کم کړي او له بلې خوا به دا چاره، په دولت کې فساد هم کم کړي .

- د بیروکراتیکو او پېچلو پروسیجرونوشتون اوددغو پروسیجرونو او تګلارو په اړه د خلکود معلوماتو کموالی د رشوت د پیښو اود فساد د نورو ډولونو له پراخوالي سره مرسته کوي.د اداري کارونو د کړنلارو په ساده والي سربیره ،د بیروکراتیکو تګلارو په اړه خلکوته د معلوماتو ورکول، باید د رسنیو او د عامه پوهاوي د پروګرامونو له لارې زیات شي.

- یوه داسې تیلیفوني کرښه او یا سیستم بایدرامنځ ته شي، چې خپلواکه او د باور وړوي، چې دعامه خدماتوکارونکي، کیدی شي ملکي مامورینوته د رشوت د ورکړې رپوټ پرې ور کړي . ددغه ډول یوې کرښې شتون ،پرحکومت باورزیاتوي. حکومت باید په کلکه سره، دفساد دپېښودهغو رپوټونوپلټنه وکړي چې د خلکو لخوا ور کړل شویدي.پردې سربیره دې، له فساد سره د مبارزې او په دغه بهیر کې د عامو خلکو د ګډون لپاره فاسد چارواکي تر عدلي پلټنو لاندې ونیول شي او محکمې ته دې واستول شي .

- په مجموع کې د اقتصادي پرمختیا او ودې لپاره د پانګونې په موخه د ځمکې د ورکولو اهمیت ته په کتو سره، په دغه سکټور کې د فساد مخنیوی ډیر اړین دی .د ځمکې د ثبتولو او تر لاسه کولو یا لیږدولو او د اړوندو حکومتي ادارو دمسوولیتونو روښانه کولو ته ډیره اړتیا ده . د حکومتي ادارو او چارواکو لخوا د ځمکې د ویشلو او لیږدولو چارې باید رڼې او شفافې وي .

- فساد د دولتي چارواکو لخوا د غیرمشروع پانګې د راغونډولو زمینه برابروي . پرهمدې بنسټ، د فساد دکمولو لپاره د عامه خدماتود چارواکو د پانګو د ثبتولواو په ډاګه کولو یاوخت په وخت خپرولو چاره باید د تفتیش د عالي ادارې لخوا جبري وي.د عامه خدماتو د چارواکو د پانګې او عواید ، په مشخص ډول د هغو کسانو چې د فساد امکان یې په ادارو کې ډیر دی، باید په منظم ډول سره وارزول شي او په دې اړوند ټول معلومات دې د خلکو لپاره خپاره شي .

- هغه ادارې چې فکر کیږي، ډیرفساد یکې دی، باید ترې وغوښتل شي، چې د فساد دمخنیوي او کمیدو لپاره کلک ګامونه پورته کړي . د افغانستان حکومت او ترټولو زیات مهم افغان پارلمان ، باید د فساد دمخنیوي او کمولولپاره ددغو ادارو کړنې وڅاري. د تفتیش عالي اداره، باید په دغو ادارو کې د څارنې او ښه والي د راتلود چارو د څارنې مشري واخلي .

- د تفتیش عالي اداره باید په ټولو حکومتي ادارو کې له فساد سره د مبارزې لپاره لومړیتوبونه وټاکي ،چې پر بنسټ یې د هیواد خلکو ته په هغو ادارو کې مهم لومړني دولتي خدمات او وسایل برابر شي ،چې د فساد له کبله لاس رسی ورته ستونزمن دی ، لکه پولیس او قضایي ادارې.

- په مجموع کې ، فساد د دولت مشروعیت او سیا سي ټیکاو ته زیان رسوي او له مخالفو وسله والو ډلو سره د ملاتړ زمینه برابروي . په هر حال، په ځینو ادارو کې د فساد شته والی، داسې ښکاري چې ډیر منفي اغیز در لودلی دی. په دغو ادارو کې له فساد سره د مبارزې لپاره د یوه اغیزمن پروګرام را منځ ته کول باید د حکومت لپاره تر ټولو مهم لومړیتوب وي .

- فساد، ولايتي ابعاد ( اړخونه) لري او د سيمې او ولايتونو په کچه يې انګيرنې مختلفې دي. په هغو ولايتونو کې چې ښکاري، فساد پکې ډيرخپورشوی او وضعيت يې خراب کړی، بايد مبارزې ته پکې لومړيتوب ورکړل شي .

- فساد، پانګوالوته ددې زمينه برابروي چې د پانګونې، توليد او اقتصادي فعاليتونو پرځای کرايي او لنډمهالي سوداګريزکارو بار( rent-seeking) له لارې پانګه را ټوله يا ترلاسه کړي . په لويو ټرونونو کې د روڼتيا د رامنځ ته کولو او ښه کيدو او خلکو ته په دې اړه د اړوندو معلوماتو د ور کولو له لارې، حکومت بايد د پانګوالو تر سره کړو محاسبو ته بدلون ور کړي اود لنډمهالي راکړې ور کړې يا سوداګرۍ پرځای حکومت بايد په صنعتي او د کرکيلي په سکټورونو کې د پانګونې لپاره هڅونکي طرحې او مشوقات برابر کړي .

- نړيواله ټولنه بايد د صادقو او پاکو دولتي چارواکو د ملاتړ له لارې داسې کلکې ژمنې په ډاګه کړي چې غواړي له فساد سره مبارزه وکړي. پردې سر بيره، هغو ادارو ته دې د مکافاتو په ډول نوره بوديجه ور کړي او ملاتړ دې وکړي، چې فساد پکې کم دی او يا يې له اداري فساد سره ښه مبارزه تر سره کړيده .

- فساد داسې ښکاري چې د امنيتي انتقال د بريالي کيدو او د افغان امنيتي ځواکونو لخوا د امنيت د ټينګولو په اړه د شک دويم لوی دليل دی .حکومت بايد د نا امنۍ او فساد د مبارزې او داخلي مقابلې درناوی وکړي اوله فساد سره مبارزې ته د دملي امنيت د لومړيتوب په سترګه وګوري .

- سره له دې چې فساد ډير زيات خپور او پراخ شويدی ، خو بياهم د هيواد لوی اکثريت خلک دغې پديدې ته د يوغير اخلاقي کړنې په توګه ګوري .حکومت اودمدني ټولنو ډلې بايد سره متحدې شي او داسې اخلاقي بحثونه دې پيل کړي، چې د فساد دمنفي اغيزو په اړه د عامو خلکو پوهاوی ډير شي.له فساد سره د مقابلې په برخه کې مذهبي پوهان ، روحانيون او ديني عالمان د يوه مهم بنسټ په توګه ډير اغيزمن بلل کيږي،نو پر همدې بنسټ، بايد حکومت دغه ديني عالمان را وغواړي (دعوت دې ور کړي) چې د فساد په اړه د خلکو د پوهاوي په برخه کې خپله ونډه تر سره کړي .پردې سربيره دې، د فساد د مخنيوي لپاره فردي هڅې راجلب کړي .

- د فساد د مخنيوي ، مبارزې اوددغو سپارښتنود بريالي عملي کيدو لپاره قوي سياسي اراده او د سياسي مشرانو او دولتي چارواکو لخوا په دې برخه کې د ژمنې کول ډير اړين دي.د بيلګې په توګه،که د حکومت په مشرتابه کې پياوړې سياسي اراده موجوده نه وي ، د بيروکراتيکو کړنلارو او پروسيجرونو ساده کول،د فساد د پيښو د رپوټ ورکولو لپاره عامو خلکو ته ديوې تيليفوني کرښې يا ادارې را منځ ته کول اود دولتي چارواکو د پانګې او شتمنۍ ثبتول فساد نشي کمولی او حکومت نشي کولی، چې له فساد سره دمخنيوي او مبارزې په برخه کې له دغو ګامونو څخه ښه ګټه پورته کړي .